علم ګل سحر

۲۰۲۱/۰۱/۱۵

# اعتبار

مـوږ اعـتبـار کـاوه پـه لـمـر د مازدیګر تر اوسه
چي بـې خـراغـه پـه تیارو کي کړو سفر تر اوسه

نــورو پــه نــورو سیــارو کــي آبـــادي پـیـل کړې
خو داسي ښکاري چي پښتون نه دی خبر تر اوسه

پـه اولادونـو بانـدې غـواوې پیایي، درس نه لولي
د عـزت شـی ګـڼي زیـاتـره مـــال و زر تر اوسه

چي یي د دوی په ویـنـو لوړې مانۍ جوړې کړلې
دغــه سړی دی د هـغو خـلـکو رهـبر تــراوسه

نـــور صـنـدوقـونو تـه روان و، چي پـاچا وټاکي
پـښـتـون ویل د ملک پاچا خو دی ظاهر تر اوسه

روان دی خـدای خبر دا ځل د چا سرونه راوړي
جنګ ته روان په څه خبـر نه دی لښکر تراوسه

زمــا پــه لـیـدو دي زلـفـي یـو طـرف ته واړولي
لــه هـغي ورځـي ځـان تـه وایـمـه سحر تراوسه

علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ